¡Colorín colorado!



د کورنیو لپاره لارښوونې

# له خپل ماشوم سره د لوست په زده کولو کې مرسته وکړئ

ستاسې د ماشومانو ښوونکي ډېر زیار باسي ترڅو هغوی ته لوست ور زده کړي. ډېرى شیان شته چې تاسې یې په کور کې کولو سره ګټور ثابتېدلی شي. دلته ځینې نظریات دي چې له تاسې سره په پیلولو کې مرسته کوي.

### 1 له خپل ماشوم سره د خپل کور په ژبه خبرې وکړئ.

ماشومان کولی شي په یو ځل زیاتې ژبې زده کړي. د کورنۍ ژبې استعمالول دوی ته ستونزې نه پیداکوي، حتی که په انګلیسي هم خبرې کوي.

### 2 خپل ماشوم ته په دوه ژبو د پوهېدو ګټې بیان کړئ:

- له کورنۍ او کلتور سره ژورې اړیکې
- د زده کړې، وظیفو او سفر لپاره لا زیات فرصتونه
- د دماغو لپاره همېشنۍ ګټې

### 3 د خپل کلتور کیسې او سندرې شریکې کړئ.

ماشومان له کیسو سره مینه لري! د کورنۍ کیسې ورته وواياست، همدارنګه د خپل ماشومتوب لوبې، سندرې او شعرونه ورسره شریک کړئ.

### 4 ځانګړي رسم او رواجونه او د کور د پخلي طریقې شریکې کړئ.

د خپل کلتور د مهمو رسم او رواجونه په اړه وغږېږئ او د یو ځای تیارولو لپاره غوره خواړه انتخاب کړئ.

### 5 له خپل ماشوم سره د هغې د ورځې په اړه خبرې وکړئ.

له هغوی څخه پوښتنه وکړئ چې څه شي ورته خوند ورکړ، څه شی ورته سخت وو یا څه یې زده کړل.

### 6 خپل ماشوم هره ورځ لیکلو ته تشویق کړئ.

له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ چې د سودا یو لیست یا یو خپلوان ته د لیک په لیکلو کې درسره مرسته وکړي. دوی کولی شي چې په موبایل کې یو لیکلی پیغام ولیکي، په کمپیوټر کې یو ایمیل ولیکي یا په کاغذ باندې یاددښت ولیکي.

### 7 د خپل ماشوم په لوړ غږ لوستلو ته غوږ ونیسئ.

له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ چې تاسې ته یو څه له کتاب، ستاسې له موبایل او یا د سودا معلومات ولولي.

### 8 که چېرې د انټرنیټ خدمات لرئ، نو تاسې کولی شئ:

- د کتابخانې د وړیا کارت لپاره ځانونه راجستر کړئ ترڅو کتابونه ډاونلوډ کړئ
- تعلیمي ویبپاڼې، ویډیوګانې او ایپونه پیداکړئ

د رافیل لوپز لخوا انځورونه

## د نورو نظریاتو لپاره...

ColorinColorado.org/reading

aft